او زه ضمام بن ثعلبه د بنو سعد بن بکر له قبيلې څخه يم

له أنس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دی چې فرمايلي يې دي: په داسې حال کې چې مونږ په مسجد کې له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره ناست وو چې يو سړی په اوښ سپور راغی، اوښه يې په مسجد کې چو کړه او بيا يې پښې ته ولکه ورواچوله، بيا يې هغوی ته وويل: په تاسو کې محمد څوک دی؟ پداسې حال کې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د دوی په منځ کې ډډه وهلې وه، نو مونږ وويل: دا سپين سړی دی چې ډډه يې وهلې ده، نو سړي ورته وويل: اې د عبدالمطلب زويه! نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل: ما ځواب درکړ (يعنې خبره دې اورم) نو هغه سړي رسول الله صلى الله عليه وسلم ته وويل: زه له تا څخه سختې پوښتنې کوم، نو - زما په پوښتنو - مه غصه کيږه او زړه ته يې مه نيسه (يعنې خوا دې پرې مه بدوه) نو ويې فرمايل: هر څه دې چې زړه کې وي په اړه يې پوښتنه وکړه، نو ويې ويل: زه له تا څخه ستا د رب او له تا څخه د مخکنيو خلکو د رب په نوم پوښتنه کوم چې آيا ته الله تعالى ټولو انسانانو ته لېږلې يې؟ هغه وفرمايل: هو - الله پوهيږي چې زه ريښتنی يم - ويې ويل: زه د الله تعالى په نوم له تا څخه پوښتنه کوم چې آيا الله تعالى تاته امر کړی دی چې مونږ په شپه او ورځ کې پنځه وخته لمونځونه وکړو؟ هغه وفرمايل: هو ، الله پوهيږي چې زه ريښتنی يم، هغه وويل : زه د الله تعالى په نوم له تا څخه پوښتنه کوم چې آيا الله تعالى تاته امر کړی دی چې د کال دا مياشت - رمضان - روژه ونيسو؟ هغه وفرمايل: هو - الله پوهيږي چې زه ريښتينی يم - ويې ويېل: زه د الله تعالى په نوم له تا څخه پوښتنه کوم چې آيا الله تعالى درته امر کړی دی چې زمونږ له مالدارو څخه دا زکات واخلې او زمونږ په غريبانو يې وويشې؟ نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: هو، الله پوهيږي چې زه ريښتينی يم، نو سړي وويل: هغه څه دې چې راوړي ما پرې ايمان راوړی دی او زه؛ زما تر شا د خپل قوم د خلکو استازی يم، او زه ضمام بن ثعلبه د بنو سعد بن بکر له قبيلې څخه يم.

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

انس بن مالک رضي الله عنه خبر ورکوي چې: صحابه کرام له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره په جومات کې ناست وو چې يو سړی جومات ته په اوښ سپور ننوت، نو اوښه يې چو کړله بيا يې وتړله، بيا يې ترې پوښتنه وکړه: په تاسو کې محمد څوک دی؟ پداسې حال کې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د خلکو تر منځه ډډه وهلې وه، نو مونږ وويل: دا سپين سړی دی چې ډډه يې وهلې ده، نو سړي ورته وويل: اې د عبد المطلب زويه، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وويل: درڅخه اورم، پوښتنه وکړه چې ځواب درکړم. نو سړي رسول الله صلى الله عليه وسلم ته وويل: زه له تا څخه پوښتنې کوم او په پوښتنو کې درباندې سختي کوم، نو زړه ته يې مه نيسه. يعنې: پر ما مه غصه کيږه او - راسره - مه تنګيږه، نو هغه وفرمايل: څه چې غواړې وپوښته، نو هغه وويل: زه له تا څخه ستا او ستا څخه د مخکنيو د رب په نوم پوښتنه کوم چې آيا ته الله تعالى ټولو خلکو ته لېږلی يې؟ هغه وويل: هو - يعنې الله پوهيږي چې زه ريښتنی يم - د خپلې ريښتينولی د ثبوت په خاطر - يې دا تاکيد وکړ . سړي وويل: زه د الله په نوم درڅخه پوښتنه کوم چې آيا الله تعالى درته امر کړی دی چې مونږ په شپه او ورځ کې پنځه وخته لمونځونه وکړو؟ او هغه فرض لمونځونه دي، هغه وفرمايل: هو، الله پوهيږي چې زه ريښتينی يم، هغه وويل: زه د الله تعالى په نوم ستا څخه پوښتنه کوم چې آيا الله تعالى درته امر کړی دی چې د کال دا مياشت روژه ونيسو؟ يعنې د رمضان مياشت، هغه وفرمايل: هو، الله پوهيږي چې زه ريښتينی يم، هغه وويل: زه د الله تعالى په نوم له تا څخه پوښتنه کوم چې آيا الله تعالى درته امر کړی دی چې زمونږ له مالدارانو څخه دا صدقه واخلې او زمونږ په غريبانو يې وويشې؟ يعنې زکات، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: هو، الله پوهيږي چې زه ريښتنی يم، نو ضمام اسلام راوړ، او رسول الله صلى الله عليه وسلم - خپلو ملګرو ته - خبر ورکړ چې هغه به خپل قوم اسلام ته رابلي، بيا يې خپل ځان معرفي کړ چې هغه ضمام بن ثعلبه د بنی بکر له قبيلې څخه دی.